# د **CBP One** د پارول تازه معلومات او ډیرې پوښتل شوي پوښتنې

*وروستی تازه شوی د مارچ ۳۱، ۲۰۲۶*

**IRCد هغو مراجعينو لپاره په متحده ایالاتو کې سرچینې برابرې کړې دي چې کېدای شي له دې بدلون څخه اغېزمن شي. موږ هیله لرو چې دا معلومات به خلکو سره مرسته وکړي څو خپل حقوق ښه درک کړي، ملاتړ ترلاسه کړي او خدماتو ته لاسرسی ومومي. خو دا معلومات د یو مسلکي وکیل یا اعتبار لرونکي استازي له حقوقي مشورې بدیل نه دي.**

## څه پېښ شوي؟

د ۲۰۲۶ کال د مارچ په ۳۱ نېټه، یو فدرالي قاضي پرېکړه وکړه چې د ټرمپ اداري په غلط ډول د هغو کسانو پارول (موقتي اجازه) ختم کړی و چې د بایډن اداري پر مهال د ۲۰۲۳ کال د مي له ۱۶ څخه تر ۲۰۲۵ کال د جنورۍ تر ۱۹ پورې د CBP One اپلیکېشن له لارې متحده ایالاتو ته داخل شوي وو، او وروسته یې پارول د ۲۰۲۵ کال په اپرېل کې د ډلهییزو ایمیلونو له لارې ختم شوی و.

قاضي څرګنده کړه چې د کورني امنیت وزارت (DHS) نشي کولی د خلکو د لویو ډلو پارول په یو ځل لغوه کړي. محکمې وموندله چې DHS قانون او خپل مقررات نه وو تعقیب کړي کله چې یې د ډلهییزو ایمیلونو له لارې پارول ختم کړ. د قانون له مخې، حکومت باید د هر کس قضیه جلا جلا و ارزوي.

د دې پرېکړې له امله، حکومت باید د پیرول (Parole) ډله ییز لغوه کول بېرته واخلي. د هغو کسانو لپاره چې دا لغوه کوونکي بریښنالیک یې ترلاسه کړی، د پیرول حالت او ورسره اړوند د کار اجازه باید بېرته فعاله شي، تر هغه چې دوی اوسمهال په متحده ایالاتو کې ژوند کوي. قاضي د کورني امنیت وزارت (DHS) ته امر کړی چې په ټول هیواد کې د هغو کسانو پیرول بېرته پر ځای کړي چې د بریښنالیک د دې ډله ییز لغوه کېدو له امله اغیزمن شوي دي. اداري ښودلې چې دوی پلان لري د دې پرېکړې په وړاندې استیناف غوښتنه وکړي، پدې معنی چې په راتلونکې کې نور بدلونونه هم ممکن دي. خو تر هغه چې دا پرېکړه د کومې لوړې محکمې لخوا بدله نشي، د کورني امنیت وزارت مکلف دی چې د محکمې امر ومني.

د دې پرېکړې له مخې، حکومت باید هغه ډلهییز پارول لغوه کول بېرته اصلاح کړي. هغو کسانو ته چې دا ایمیلونه یې ترلاسه کړي، د پارول حالت او اړوند د کار اجازه باید بېرته ورکړل شي تر هغه چې دوی اوس هم په متحده ایالاتو کې اوسي. قاضي DHS ته امر کړی چې دا حالت په ټول هېواد کې بېرته اعاده کړي

## دا پرېکړه په چا تطبیقیږي؟

دا پرېکړه په هغو کسانو تطبیقیږي چې: ۱. دا مهال په متحده ایالاتو کې دي، ۲. د ۲۰۲۳ کال د مي له ۱۶ څخه تر ۲۰۲۵ کال د جنورۍ تر ۱۹ پورې د CBP One اپلیکیشن له لارې داخل شوي وي، ۳. د ۲۰۲۵ کال په اپرېل کې یې د DHS له خوا د پارول د ختمېدو ډلهییز ایمیل ترلاسه کړی وي . که تاسو ته شخصي خبرتیا درلېږل شوې وي، نو دا پرېکړه ممکن پر تاسو ونه لګېږي.

# د CBP One د پارول تازه معلومات او ډیری پوښتل شوي پوښتنې

*وروستی تازه شوی د مارچ ۳۱، ۲۰۲۶*

## ایا دا پدې مانا ده چې زما پیرول (Parole) په اوتوماتیک ډول بېرته فعال شوی؟

محکمې د کورني امنیت وزارت (DHS) ته امر کړی چې د هغو کسانو پیرول بېرته فعال کړي چې د ډله ییزو لغوه کولو بریښنالیکونو له امله اغیزمن شوي وو. دا پدې مانا ده چې تاسو د محکمې د پرېکړې له مخې قانوني خوندیتوب لرئ، حتی که د DHS ریکارډونه سمدستي نوي (Update) شوي نه وي. د DHS سیستمونه د بدلونونو د ښودلو لپاره وخت نیولی شي، او ممکن حکومت په راتلونکو اوونیو کې اضافي لارښووني خپرې کړي. دا د دې لپاره چې پوه شئ چې ایا ستاسو پیرول بېرته فعال شوی، تاسو کولی شئ خپل وروستی I-94 د DHS په ویب پاڼه کې وګورئ
.: [recent I-94 on the DHS website](https://i94.cbp.dhs.gov/search/recent-search): https://i94.cbp.dhs.gov/search/recent-search که تاسو په خپلو ریکارډونو کې سمدستي بدلون هم ونه وینئ، بیا هم د محکمې امر د اعتبار وړ دی، تر هغه چې کومه لوړه محکمه یې بدله نه کړي.

## زما د کار د اجازې (Work Authorization) په اړه څه؟

څرنګه چې د ډیری CBP One داخلیدونکو د کار اجازه په پیرول ولاړه وه، نو د پیرول بېرته فعالول باید د کار د اجازې له بېرته فعالیدو سره هم مرسته وکړي. د کډوالۍ اداري (USCIS) تر اوسه نه دي ویلي چې دوی به څنګه هغو کسانو ته اسناد ورکوي چې د محکمې د حکم له امله یې د کار اجازه نوي شوې ده، نو تاسو باید د کار د اجازې د سند په ترلاسه کولو کې د ځنډ تمه ولرئ. تاسو باید د خپلو پخوانیو پیرول او د کار د اجازې د ټولو اسنادو کاپي له ځان سره وساتئ.

## زما پارول/د کار اجازه پای ته رسېدلې ده. ایا دا پرېکړه زما پارول/د کار اجازه نوې کوي یا یې موده غځوي؟

د قاضي په پرېکړه کې د پارول یا د کار اجازې د نوي کېدو او یا د مودې د غځېدو په اړه هېڅ یادونه نه ده شوې. که ستاسو د پارول یا د کار اجازې موده مخکې له دې پای ته رسېدلې وي، نو دا پرېکړه به نه ستاسو پارول بېرته فعاله کړي او نه به یې موده وغځوي.

## ایا دا پدې معنی ده چې زه اوس مهال په هیواد کې پاتې کېدای شم؟

که ستاسو پیرول (Parole) یوازې د CBP One د ډله ییزو لغوه کولو بریښنالیکونو له امله لغوه شوی وي، د محکمې امر د کورني امنیت وزارت (DHS) د هغو خبرتیاو په کارولو څخه منع کوي. تاسو باید یوازې د هغو پیغامونو پر بنسټ له متحده ایالاتو څخه ونه وځئ یا "خپل ځان مه ډیپورټ کوئ". تاسو باید ژر تر ژره د کډوالۍ له یو وکیل یا باصلاحیته استازي سره خبرې وکړئ ترڅو په خپلو اختیارونو او مناسبو لارو بنه پوه شئ.

## ایا دا ماته دایمي حالت (Permanent Status) یا پناه اخیستنه (Asylum) راکوي؟

نه. دا پرېکړه دایمي قانوني حالت، پناه اخیستنه، یا د کډوالۍ بله کومه اوږدمهاله کټه یا د دایمي حالت لپاره لاره نه برابروي. پیرول په متحده ایالاتو کې د اوسیدو یو لنډمهاله اجازه پاتې کیږي تر هغه چې تاسو د کډوالۍ قانوني حل لاره لټوئ، او ستاسو د کډوالۍ نورې قضیې (لکه د پناه غوښتنې غوښتنلیکونه یا د محکمې بهیر) په جلا توګه دوام لري. دا په یاد ولرئ چې د پناه غوښتنې د غوښتنلیکونو لپاره، د هغه وخت څخه چې تاسو لومړی هیواد ته داخل شوي یاست، یو کلن مهلت (Deadline) شتون لري.

## که زه د پناه غوښتنې یا د کډوالۍ د محکمې روانه قضیه ولرم، څه کیږي؟

ستاسو د پناه غوښتنې یا د کډوالۍ قضیه د پلان سره سم دوام لري. د محکمې پرېکړه یوازې د پیرول پر لغوه کولو اغیزه کوي او ستاسو د پناه غوښتنې دعوه یا د محکمې مسؤلیتونه نه لغوه کوي او نه وربانديې پرېکړه کوي. تاسو باید خپلو ټولو ملاقاتونو او اوریدنو ته دوام ورکړئ او د USCIS یا د کډوالۍ محکمې سره د هرې رواني قضیې اړوند اړتیاوې او شرایط پرځای ومنئ .

## که چیرې DHS زما پیرول د بل کوم دلیل له امله لغوه کړی وي، بیا څه کیږي؟

که ستاسو پیرول (Parole) د انفرادي دلایلو له امله لغوه یا بېرته اخیستل شوی وي (لکه د جنایي جرم تور یا د CBP

# د CBP One د پارول تازه معلومات او ډيرى پوښتل شوي پوښتنې

*وروستى تازه شوى د مارچ ۳۱، ۲۰۲۶*

Oneله ډله بيز لغوه کولو پرته نور موندل شوي دليلونه)، نو ممکن دا پرېکړه پر تاسو پلي نشي. که تاسو نه پوهيږئ چې ستاسو پيرول ولې لغوه شوى، تاسو بايد د کډوالۍ له يو وکيل سره خبرې وکړئ .

## زه بايد اوس څه وکړم؟

د اوس لپاره، دا ښه نظر دى چې د باخبره پاتې کيدو او چمتووالي لپاره دا څو کارونه ترسره او مهم ګامونه واخلئ:

- خپل اسناد خوندي وساتئ :د پيرول د اسنادو، د کار جوازونو (EADs) او د DHS يا USCIS څخه د ترلاسه شويو پيغامونو يا ليکونو کاپي له ځان سره وساتئ. د کډوالۍ ټول ريکارډونه وساتئ، په شمول متحده ايالاتو ته د ننوتلو شواهد يا د CBP One ملاقاتونه(Appointments) ، په ځانګړې توګه که تاسو په ټاکلي وخت کې داخل شوي ياست، او د ۲۰۲۵ کال د اپريل مياشتې د پيرول لغوه کيدو بريښناليک هم وساتئ .

- په منظمه توګه تازه مالومات (Updates) وګورئ :د DHS نويو خبرتياو ته پاملرنه وکړئ. نوي ليکونه، بريښناليکونه او د DHS خبرتياوې څارئ. د DHS په ويب پاڼه کې خپل وروستى I-94 وخت په وخت وګورئ [recent I-94 on the DHS website](https://i94.cbp.dhs.gov/search/recent-search)اوکله https://i94.cbp.dhs.gov/search/recent-search : که تاسو له DHSڅخه نوي پيغامونه يا ليکونه ترلاسه کړئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې په ځير سره يې ولولئ او د راتلونکو ګامونو په اړه د پوهيدو لپاره له يوې باورې قانوني ادارې يا وکيل څخه مرسته وغواړئ.

- د سفر يا لويو بدلونونو په اړه محتاط اوسئ :لويې پرېکړې، لکه له متحده ايالاتو څخه بهر سفر کول يا ستاسو د کډوالۍ په حالت کې بدلون راوستل، جدي پايلې درلودلى شي، نو دا به غوره وي چې لومړى صبر وکړئ او مالومات راټول کړئ.

## زه چيرته نورې مرستې موندلى شم؟

په خپله سيمه کې د کډوالۍ قانوني خدمتونو وړاندې کونکي ومومئ. لاندې کوډونه استفاده کولى شئ .

| Immigration Advocates Network | American Immigration Lawyers Association | ASAP list of private attorneys | Rapid Response Network of Hotlines |
|---|---|---|---|
| | | | |